# د ټاکنیزو شکایتونود کمیسیون غړي سید مراد شریفي لنډ ژوند لیک

قضات وال سید مراد شریفي د سید محمد اسمعیل زوی په ۱۳۳۰ هجري شمسي کال کي د ننګرهار ولایت د چپرهارولسوالی په یوه روحاني کورنی کي زیږیدلی ـ د کابل ابوحنیفه د مدرسي څخه په عالي درجي سره د فارغیده وروسته د اختصاصي آزموینې په ترڅ کې د کابل پوهنتون شرعیاتو پوهنځي ته بریالی شو.

ښاغلی شریفي په۱۳۵۷کال کي د لومړي درجي په لاس ته راوړلو سره د کابل پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي څخه فارغ شو . د ستري محکمي قضایي ستاژ دولسمه دوره یې په موفقیت سره تیره کړې، د مصر د عربي جمهوریت د قاهرې ښارد قضایي دراساتو د المغرب د هیواد د رباط ښار قضایي تعلیماتو په مرکزونو کی یې کورسونه لوستي او د ایټالیا هیواد د روم ښارکي یې په قضایي کورس کي ګډون کړی دی ، په پوهنتون کي د زده کړو په وخت کي په رسمي سفر د سعودي هیواد د مکي معظمي ، مدیني منورې او ریاض ښارونو ته استول شوی او د ریاض په ښار کي یې د الجامعة ابن سعود الاسلامیه په علمي کانفرانس کي د ویناوال په توګه برخه اخستي .

د پوهنتون څخه د فراغت وروسته لمړی د ننګرهار ښاري محکمي د غړي په توګه ګمارل شوی وروسته یې بیا د شرعیاتو پوهنځي د استاد په توګه د تفسیر او حدیث په دیپارټمنت کي دنده درلوده او د عظیم الشان قران د تفسیر به برخه کي یې تدریس کړی ،د روسانو د اشغال په وخت کي د پاکستان هیواد ته کډوال او په مختلفو اړونده جهادي دندوکي یې کار کړی .

د هجرت څخه د بیرته راستنیدو وروسته یې د لغمان ولایت داستیناف محکمي د عامه امنیت دیوان رئیس ، د مدني دیوان رئیس ، د ننګرهار د ښاري محکمي غړی ، د کابل استیناف محکمي د جزاء دیوان غړی او بیا د همدغه دیوان د رئیس او وروسته په ۱۳۸۳ هـ ـ ش کال کي د ستري محکمي د مدني او عامه حقوقو دیوان د غړی په توګه په عالي دولتي بست کي یې تقرر حاصل کړی، او بیا د ستري محکمي په تجارتي دیوان کي یې د مستشار په توګه دنده تر سره کړي ،وروسته بیا د بغلان د استیناف محکمي د لوی رئیس ، د ننګرهای ولایت د استیناف محکمي د لوی رئیس ، او د پکتیا ولایت د استیناف محکمي د لوی رئیس او په دغه زونونوکي د ستری محکمي د زون د رئیس مرستیال هم پاتې شوی دی . په ۱۳۸۷ هـ ـ ش کال یې د اروپا د اتریش هیواد د ویانا په ښار کي د یوه اونی لپاره په ورکشاپ کي ګډون وکړ او وروسته د ستري محکمي د قضایي پلټني د لوی رئیس په توګه مقرر او تر څنګ یې اوس د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون د غړي په توګه د دندی په ساتني سره د افغانستان ولسمشر له خوا وټاکل شو او د کمیسیون د غړو په اتفاق د دغه کمیسیون د رئیس په توګه وټاکل شو. د دولتي دندو د اجراء په وخت کي څلور ځله په دوهمه درجه تقدیر نامه وياړل شوی .یو ځلي د محصلی په وخت کي د بیت الله شریف د عمرې په کولو ـ او بیا دوه ځلي د بیت الله الحرام د حج په اداء کولو مشرف شوی.

د ایران ـ بحرین ، عر بي مصر ، عربي المغرب ، ایټالیا او عربي اماراتو هیوادونو ته یې رسمي سفرونه کړي .اصلي رتبه یې مافوق او کدري رتبه یې قضاوت والي ده، په پښتو ، دري او عربي ژبو خبرې او لیکنه کولی شي او څه ناڅه د انګلیسي او ترکمني ژبو سره هم بلدتیا لري.

نوموړی متاهل او لس اولاده لري .

او اوس د کابل ښار په قلعه زمانخان سیمه کي په یوه کرایي کور کي استوګنه کوي.